قاسم باز

۲۰۱۵/ ۰۷ /۲۲

# د سترگو لیدلی یادابنتونه

محمد موسی شفیق څرنگه او د چا په سپارښتنه د شهید محمد داودخان د جمهوریت په دوره کښی د نظارت څخه خلاص شو؟

په دی یاداښت کی غواړم چی د خپل پلار بازمحمدخان منگل له یوی تاریخی پیښی پلو (پرده) پورته کړم.
زما پلار چی د شهید محمد داود خان د نږدی او ډیرو باوری دوستانو د جملی څخه و، او د شهید محمد داود خان د ژوند ډیری کیسی (قصه) یی تری پټی نه وی، خو له بده مرغه زما پلار ډیری کیسی له ځانه سره تورو خاورو ته وړی دی.
بیا هم راځو دی کیسی ته چی محمد موسی شفیق څرنگه د صدارت د نظارت خانی له بند او نظارت آزاد شو؟
په دی هکله غواړم د خپل پلار لیکل شوی کتاب چه نوم یی دی (د سترگو لیدلی یاداښتونه) [له بلی د ارگ تر مانی] د کتاب چی د افغانستان مشهور تاریخ پوهه او ملی لیکوال ښاغلی شهسوار(سنگروال نیازی) چه په ۳۷۰ مخونو کی لیکلی دی د هغه کتاب ځینی مهمی واقعی خپلو گرانو وطنوالو سره شریکی کړم.

دا کیسه او داستان له دی ځایه را پیل کوم.
پیر سید احمد گیلانی چی د جهاد په وخت کی د محاذ ملی رهبر و، دی د شهید سردار محمد داودخان د جمهوریت په لمړیو ورځو کی د کومی تیروتنی له مخی د هماغه وخت د مهال د پولیسو له خوا نظر بند شو.
د تحول نه څو ورځی تیری شوی وی، یوه ورځ چی د ماسپښین (غرمی) دوی بجی وی زمونږ د کور دروازه و ټکول شوه کله چی می دروازه خلاصه کړه گورم یو تن سلام واچوه، له روغبړ نه پوهه شوم چی نوموړی د سره رود(سرخرود) اوسیدونکی دی نوبیا یی د سره رود په لهجه رانه و پوښتل چی خان صاحب په کور کښی شته؟ زه پیرصاحب گیلانی را لیږلی یم، غواړم د هغه پیغام ور ته و رسوم. بیا می پلار ته خبر ورکړو او هغه هم را ته وویل چی مهمانخانی کښی کښینوه زه درځم، کله چی می پلار اطاق ته راغی نو د هغه کس نه یی وپوښتل خیریت دی، مننه زه پیرصاحب رالیږلی یم. لومړی هغه سلام وایه او بیا یی را غبرگه کړه چی خان صاحب ته ووایه که تکلیف در ته نه وی او مهربانی وکړی یو ځل سره و گورو..... زه دی درناوی ته درتلم خو زما کور پولیسو کلابند کړی دی ماته اجازه نشته چی له کوره ووځم.
پلار می نوموړی شخص ته وویل ځه لاړ شه زما سلامونه هم پیر صاحب ته ووایه زه مازدیگر درځم.زما پلار د ډیر پخوا څخه د ده سره پیژندل بلکی له هاغه د مشر وررور سید شیراغا سره ډیر نژدی دوستانه اړیکی درلودی او همیشه به دا دوستی د یو بل سره پایله.
پلار می د وعدی سره سم د پیر سید احمد گیلانی کور ته لاړه او د اوږدو خبرو په لړ کی څرگنده شوه چی دی پخپل کور کی د پولیسو لخوا کلابند(نظربند) دی او حق نلری چی د کوره بهر ووځی. پولیسو نه یواځی دی له کوره بهر نه پریښوده بلکی هاغه کسان به چی ده ته راتلل، پولیسو به تری پوښتنی کولی، پیر صاحب د خبرو په پای کی زما پلار


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

نه هيله وکړه چې د ده مشکلات او ستونزې د دولت جمهور رئيس محمد داوود خان ته ورسوی چې زمونږ ګناه څه ده چې ستا د واک په مهال زورول کيږو؟.
کله چې پلار مې د سردار محمد داوود خان ليدو ته ورځي نو بيا ور ته د پير سيد احمد ګيلاني ستونزې پر مخ کې ايږدې، کله چې محمد داود خان د ګيلاني له نظارت نه خبرېږي پلار مې وويل چې داودخان په ډېر حيرانتيا راته وويل: زه د ګيلاني له نظرې بندي هيڅ خبر نه يم دا چې ولې داسې کيږي د خواشينې خبره ده.
سمدلاسه داوود خان د تليفون غوږې پورته کړه او د کورنيو چارو وزير چې فيض محمد وه هغه ته يې وويل: دا اوس دستې ډېر ژر کوم پوليس چې تاسې د ګيلاني د کور د نظارت لپاره ګمارلي دي له هاغه ځايه لرې کړئ: نور شکايت پورته نشې.
په پای کښې د دولت رئيس محمد داوودخان د کورنيو چارو وزير فيض محمد ته بيا ور غبرګه کړه مونږ چې کوم تحول راوستې دی د خلکو د هوساينې او خوشحالې لپاره دی، نه دا چې مونږ خلکو ته ستونزې پيدا کړو.
خان صاحب وايې هغه مهال چې پير ګيلاني پوه شو چې نور دته ځوک زيان نشوی رسولی، يو ځل بيا يې له مانه د مننې په ترڅ کې يوه بله غوښتنه هم وکړه او هغه هم د خپل ځوی غوښتنه، هغه غوښتنه دا وه، د پير ګيلاني مشر ځوی حامد ګيلاني چې په ايران کښې په لوړو زده کړو بوخت وه او د رخصتې لپاره کابل ته راغلی وه د بيرته تګ اجازه ورته امنيتي اورګانونو نه ورکوله، پلار مې بيا د حامد ګيلاني پاسپورت او تذکره محمد داوود خان ته پر مخکښې ږدې او پلار مې داود خان ته وايي چې اوس امنيتي ارګانونه دا هلک تحصيل ته نه پرېږدي او ورته وايي چې اول د خدمت دوره تيره کړه، بيا تحصيل وکړه. پداسې حال کې چې محمد داوود خان بيا خواشينې کيږي قلم را اخلي او د حامد ګيلاني د پاسپورت په يوه صفحه کې په خپله امضا ليکې (به شخص محصل اجازه تحصيل داده شود. امضا محمد داوود).
يوه موده وروسته د يوې ملمستيا په ترڅ کښې چې پير سيد احمد ګيلاني زما د پلار باز محمد خان په وياړ پخپل کور کې جوړه کړې وه پير صاحب خپل ميلمه ته مخ اړه وی او ورته وايي: خان صاحب نه پوهيږم چې په کومه ژبه در نه مننه وکړم تاسو له ما سره ډيره مرسته کړې ده خو اوس غواړم چې يوه بله ډيره مهمه خبره درته و کړم چې هغه د هيواد د وخت د صدراعظم موسی شفيق په اړه ده... تاسو پوهيږې چې هغه زما ډير ګران او خوږ دوست دی تاسو نه د تير په څير هيله کوم چې د هغه د خوشې کيدو په تړاو سردار ته يو غوږ وهنه و کړې.
خان صاحب يو ځل بيا د خدمت تيتر وهې او پير ګيلاني ته وايي چې تاسو کولای شې يوه عرض پانه ماته وليږی زه به يې د سردار مخکښې کيږدم.
له ملمستيا وروسته، پير صاحب د منګلو د دود له مخې د خان صاحب ميرمني ته د پير ګيلاني له ميرمنې لخوا يو ټکرې ورکړل.
دوه ورځې وروسته محمد هارون شفيق چې د محمد موسی شفيق سکه ورور دی او هم د عبدالمجيد باز د محمد داوود خان سرياور ملګری او دوست دی د پير سيد احمد ګيلاني په سپارښتنه عرض پانه زما پلار ته سپاری. له دی نيتی نه درې ورځې وروسته خان صاحب پداسې حال کښې چې، د محمد موسی شفيق په تړاو عريضه هم ورسره وه د افغانستان جمهور رئيس محمد داوود خان مخ ته کينودله، کله چې، محمد داوود خان عريضه لولی نو بيا زما پلار ته وايي. ((بازمحمدخانه! اوس زمونږ د ملګرو وينه ډيره توده ده، دوی د محمد موسی شفيق په خوشی کولو کې يوه خوله ندی خو ژمنه درسره کوم چې ډير ژر به يې ازاد کړم... تاسو ډاډه اوسی))
نور بيا

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ